## ستاسو د ماشوم واکسینونه - هغه ماشومان چې په 1 اکتوبر 2024 نېټه یا له دې وروسته زیږېدلي وي

د هغو والدینو او سرپرستانو لپاره معلومات چې له نورو هیوادونو څخه آیرلینډ ته راغلي دي.

په دې معلوماتي پاڼه کې به تاسو د خپل ماشوم لپاره د واکسین په اړه معلومات ومومئ. د مخنیوي وړ ساري ناروغیو په وړاندې ساتنې سره واکسین ستاسو د ماشوم په صحتمند ساتلو کې مرسته کوي.

**واکسینونه ولې مهم دي؟**
واکسینونه تیخور ماشومان او ماشومان د انتاناتو څخه ساتي چې کولی شي دوی جدي ناروغه کړي. ډېر کوچني ماشومان د دې انتاناتو له خطر سره مخ دي، نو واکسینونه ژر تر ژره پیل کیږي.
په آیرلینډ کې د واکسینونو مهالویش (ترسره کول) د دوه میاشتنۍ په عمر کې پیل کېږي او هغه واکسینونه چې سپارښتنه یې کېږي، ستاسو عمومي ډاکټر یا GP ته په مراجعې کولو سره، معمولاً په 5 لیدنو کې ورکول کېږي، هغه مهال چې ستاسو ماشوم 2، 4، 6، 12 او 13 میاشتو عمر ولري. په آیرلینډ کې ماشومانو ته ورکول کیدونکي واکسینونه دوی د هغو انتانونو (ناروغیو) پروړاندې ساتي چې په آیرلینډ کې عام یا خورا جدي دي.

**په آیرلینډ کې کومو واکسینونو وړاندیز کیږي؟**
ماشومانو ته ددې لپاره د واکسینونو ترسره کولو سپارښتنه کېږي ترڅو یې د هغو ناروغیو پر وړاندې ساتنه وکړي چې په آیرلینډ کې عامې دي یا هغه ناروغۍ چې ماشومان ډېر سخت ناروغه کولای شي.

| لیدنه | د واکسین مهالویش | ورکړل شوي واکسینونه |
|---|---|---|
| لیدنه 1 | 2 میاشتې | 6 په 1 کې + PCV + MenB + *Rotavirus<br>*3 پیچکارۍ + د خولې څاڅکي* |
| لیدنې 2 | 4 میاشتې | په 1 کې 6 + MenB + Rotavirus<br>*2 پیچکارۍ + د خولې څاڅکي* |
| لیدنې3 | 6 میاشتې | 6 په 1 کې + PCV<br>*2 پیچکارۍ* |
| لیدنې 4 | 12 میاشتې | MMR + MenB + Chickenpox (کوڅیکی)<br>*3 پیچکارۍ* |
| لیدنې 5 | 13 میاشتې | 6 په 1 کې + MenC + PCV<br>*3 پیچکارۍ* |

**په 8 میاشتو 0 ورځو عمر کې یا له دې وروسته د Rotavirus (نسناستي) واکسین نه ورکول کېږي*

**په نورو هیوادونو کې ورکول کیدونکی واکسینونو او په آیرلینډ کې د ورکول کیدونکی واکسینونو ترمنځ څه توپیر دی؟**
په آیرلینډ کې ورکول کیدونکی ډیری واکسینونه په نورو هیوادونو کې هم ورکول کیږي. د مثال په توګه، په زیاتره هیوادونو کې ماشومانو ته د خناق، پولیو، تیتانوس او شری په وړاندې د ساتنې واکسینونو وړاندېز کیږي.
د نورو هیوادونو په پرتله په آیرلینډ کې تجویز شوي واکسینونو کې توپیر کیدای شي. د دې لامل دا دي چې د نورو هیوادونو په پرتله په آیرلینډ کې د ناروغیو ترمنځ توپیر کیدای شي. د مثال په توګه په آیرلینډ کې موږ واکسینونه ورکوو کوم چې ماشومان د منینګوکوکل B او C ناروغۍ څخه ساتي. دا انتانات د مننژیت او سیپتیسیمیا سبب کیدی شي. دا واکسینونه په ځینو هیوادونو کې د واکسینونو مهال ویش یوه برخه نده. مګر په آیرلنډ کې د دوی سپارښتنه کیږي ترڅو د دې خورا جدي انتاناتو څخه ماشومان خوندي کړي.

**زما ماشوم ټول خپل واکسینونه په بل هیواد کې لګولي وو. دوی ولې اوس نورو واکسینونو ته اړتیا لري کله چې دوی په آیرلینډ کې دی؟**
دا چې ستاسو ماشوم اوس په آیرلینډ کې ژوند کوي، نو دوی باید د آیرلینډ د واکسین په مهال ویش عمل وکړي. هغه واکسینونه چې په آیرلینډ کې یې د ترسره کولو سپارښتنه کېږي د هغو ناروغیو پر وړاندې د ماشومانو ساتنه کوي چې په آیرلینډ کې عامې دي یا هغه ناروغۍ چې ماشومان ډېر سخت ناروغه کولای شي.
ستاسو ماشوم باید د واکسینونو سره "کیچ آپ یا ترلاسه کول" وي چې په آیرلینډ کې وړاندیز کیږي. دوی د واکسینونو تکرارولو ته اړتیا نلري چې دمخه یې په بل هیواد کې ترلاسه کړي وي.

**دا اضافي واکسینونه ستاسو ماشوم د کومو ناروغیو څخه ساتي؟**

**روټاویروس د خلې له لارې واکسین**
Rotavirus (نسناستی) یو ویروسي ناروغي ده چې په تیخورو ماشومانو او کوچنیو ماشومانو کې د نسناستي او کانګو لامل کیږي. ډیری ماشومان په کور کې بیرته جوړیږي مګر ځیني باید روغتون ته یوړل شي. په آیرلینډ کې د نسناستي واکسین معرفي کیدو څخه مخکې هر کال په نسناستي اخته شاوخوا 880 ماشومان چې عمرونه یې د 5 کلونو څخه کم وو په روغتون کې بستري کیدل. د نسناستي واکسین معرفي کیدو څخه وروسته دا شمیر خورا ډیر راټیټ شوی دی. د نسناستي واکسین یوازې د 8 میاشتو څخه کم عمر لرونکو ماشومانو ته ورکول کیدی شي.

**د مینګوکوکل بی (MenB) واکسین**
د MenB واکسین د مینګوکوکل B ناروغۍ پر وړاندې ستاسو د ماشوم په خوندي ساتلو کې مرسته کوي. دا یوه جدي بکتریایی ناروغي ده چې د منیژیت (د مغزو د پردې د پړسوب ناروغی) او سپټیسیمیا (د وینې زهري ګرځېدلو) لامل کیدی شي. مینګوکوکل B په آیرلینډ کې له منیژیت څخه د کوچنیو ماشومانو د زیاتره انتانونو (ناروغیو) او مړینې لامل کیږي. MenB واکسین معمولاً د 2 کلنۍ له عمر څخه وروسته نه ورکول کېږي.

**د مینګوکوکل سی (MenC) واکسین**
د MenC واکسین د مینګوکوکل C ناروغۍ پر وړاندې ستاسو د ماشوم په خوندي ساتلو کې مرسته کوي. دا هم یوه جدي بکتریایی ناروغی ده چې د منیژیت (د مغزو د پردې د پړسوب ناروغي) او سپټیسیمیا (د وینې زهري ګرځېدلو) لامل کیدی شي.

**نیوموکوکل (د سینه بغل، PCV) واکسین**
د PCV واکسین د هغو نارغیو پر وړاندې ساتنه کې مرسته کوي چې د نیوموکوکس بکتریا له امله رامنځته کېږي. دا بکتریا کولی شي د ناروغیو لامل شي لکه منیژیت (د مغزو د پردې د پړسوب ناروغي)، سینه بغل (د سږو ناروغي) یا سپټیسیمیا (د وینې زهري ګرځېدل). د PCV واکسین معمولاً د 2 کلنۍ له عمر څخه وروسته نه ورکول کېږي.

**کوڅیکی (د چیچک دانې)**
کوڅیکی د یو ډېر ساري ویروس له امله رامنځته کېږي. دا ناروغي د خارښت او اوبو لرونکو ګرمکو (دانو) او نورو نښو نښانو لکه تبې او د ناروغۍ احساس کولو لامل ګرځي. کوڅیکی د لا نورې جدي ناروغۍ لامل ګرځېدلی شي لکه انسیفلایټیس (د مغز التهاب)، سینه بغل (د سږو ناروغي) او مایوکارډایټیس (د زړه التهاب).
**د دې واکسینونو جانبي عوارض څه دي؟**
له واکسینونو ترسره کولو څخه وروسته اړخیزې اغېزې معمولاً کمې وي او یوازې څو ورځې دوام مومي.

- د MenB واکسین له ترسره کولو څخه وروسته د تبې (د بدن د حرارت درجې لوړوالی) معمولي خبره ده. که چېرې ستاسو ماشوم MenB واکسین ترسره کوي، نو د مهربانۍ له مخې خپلو لومړیو دوو لیدنو ته د ماشومانو مایع پرستامول له ځان سره راوړئ. دا به د تبې په کابو کولو کې مرسته وکړي.
- ځیني وختونه کېدی شي ماشومان په هغه ځای کې درد، پړسوب او سوروالی ولري چیرې چې پیچکاری ورکړل شوې وي. داډ ترلاسه کړئ چې جامې ډېرې تنګې نه وي.
- د نسناستي ویروس د خولې واکسین ترلاسه کولو وروسته لږ نسناستی درلودل عادي خبره ده. خپل ماشوم ته ډېرې شیدې ورکړئ. خپل لاسونه د خپل ماشوم د رونې (ډایپر) بدلولو او پاکولو وروسته په احتیاط سره ومینځئ.
- له واکسین ترلاسه کولو وروسته په غېږ کې نیول او خواړه ورکول ستاسو له ماشوم سره په ښه احساس لرلو کې مرسته کوي.
- د کوڅیکي واکسین له ترسره کولو څخه وروسته، د ماشومانو د بدن په ځینو برخو لږ ګرمکي (دانې) پیدا کېږي. دا ګرمکي د واکسین له ترسره کولو څخه 5-26 ورځې وروسته راڅرګندېدای شي. دا ګرمکي (دانې) په خپله له منځه ځي او درملنې ته اړتیا نلري. که چېرې ستاسو د ماشوم په بدن دا ډول ګرمکي راڅرګندې شي، نو تاسو کولای شئ په اړه یې نور معلومات دلته ولولئ یا له خپل نرس یا ډاکټر سره خبرې وکړئ.

**زه چیرته کولی شم خپل ماشوم واکسین کړم؟**
په آیرلینډ کې د کورنیو ډاکټران (GP) ماشومانو ته واکسین ترسره کوي. نرس معمولا د GP تر لارښوونې لاندې

ماشومانو ته واکسین ورکوي. ښايي نور کلينيکونه شتون ولري چې د روغتيايي خدمتونو لخوا تنظيم شوي وی ترڅو ماشومانو ته د اړتيا وړ واکسين ورکړي. د بېلګې په توګه، د آيرلينډ د روغتيايي خدمتونو له اداري (HSE) څخه نرسان او ډاکټران کلينيکونه تنظيموي ترڅو هغو ماشومانو ته واکسينونه ترسره کړي چې مهاجرين يا پناه غوښتونکي وي.

**زه څنګه د GP سره یوه لیدنیته وټاکم؟**

تاسو باید له یو GP سره د لیدنې وخت (اپاینټمنټ) واخلئ. داچې څنګه یو GP پیدا کولای شئ، په اړه یې معلومات دلته وګورئ. که چېرې تاسو یو GP نلرئ، نو ښايي د HSE ځايي ډله کلينيکونه تنظيم کړي چيرې چې ستاسو ماشوم واکسين ترلاسه کولای شي.

**د واکسيناسيون په ليدنه کې څه پيښيږي؟**

د واکسينونو له ورکولو څخه مخکې، نرس يا ډاکټر له تاسو سره ستاسو د ماشوم د اړتيا وړ واکسينونو او د هر واکسين په اړه خبرې کوي. د واکسينونو له ترلاسه کولو څخه وروسته، تاسو ته د "واکسين پاسپورټ" سند درکول کېږي چې ستاسو ماشوم ته د ترسره شوو واکسينونو په اړه پکې معلومات ذکر شوي وي. دا ډېره مهمه ده چې ستاسو د ماشوم د واکسينونو سوابقو په توګه د واکسينونو پاسپورټ خوندي وساتئ. دا مهمه ده چې تاسو دا سند (سوابق) له ځان سره د واکسينونو ترسره کولو نورو ليدنو ته راوړئ.

**ايا زه باید د واکسيناسيون لپاره پيسې ورکړم؟**

نه. واکسيناسيون په آيرلينډ کې وړيا دی.

**ايا کوم واکسينونه د لويو ماشومانو لپاره تجويز کيږي؟**

کله چېرې ماشومان په ښوونځي کې وي، نو دوی ته د واکسينونو ترسره کولو سپانښتنه کېږي.

**په کوچنيو ماشومانو کې (چې عمر يې 5 کاله وي)** د شري، پړسوب (جاغور)، روبيلا او کوڅيکي پر وړاندې د ساتنې لپاره د MMRV واکسين او د ديفتري، تيتانوس، پرتوسس (ټوخله) او ګوزن ضد واکسينونو پياوړی کوونکی دوز. دا واکسينونه په ښوونځي کې ورکول کېږي.

**د ثانوي ښوونځي په لومړي کال کې (عمر 12):** د HPV، MenACWY (مننګوکوکل ACWY) واکسينونه او د ديفتري، تيتانوس او پرتوسس (ټوخلې) واکسينونو پياوړی کوونکی دوز. دا واکسينونه په ښوونځي کې ورکول کېږي.

**ايا کوم واکسينونه د بالغانو لپاره تجويز کيږي؟**

هو. هغو لويانو (بالغو کسانو) ته چې ځينې واکسينونه يې ندي ترلاسه کړي، سپارښتنه کيږي چې دا واکسين ترسره کړي. د بېلګې په توګه، د MMR واکسين چې د شري پړسوب او روبيلا په وړاندې ساتنه کوي، هغو لويانو ته يې د ترسره کولو سپارښتنه کېږي چې هيڅکله يې دا واکسين نه وي ترلاسه کړي. د HSE ځايي ډلې له يو غړي، خپل GP يا نرس سره خبرې وکړئ.

**زه د واکسيناسيون په اړه ځينې پوښتنې لرم، زه له چا سره خبرې کولی شم؟**

د HSE ځايي ډلې له يو غړي، خپل GP يا نرس سره خبرې وکړئ. که چيرې نور کلينيکونه د روغتيايي خدمتونو اداري لخوا تنظيم شوي وي ترڅو ماشومانو ته واکسينونه ورکړي، تاسو کولای شئ په دې کلينيکونو کې هم له ډاکټر يا نرس سره خبرې وکړئ.

د نورو معلوماتو لپاره له www.immunisation.ie څخه ليدنه وکړئ

National Immunisation Office
January 2025, Version 3.0